AREU Contact:
Thomas Muller
Communications Manager
070-223-265

World Bank Contact:
Abdul Raouf ZIA
Communications Officer
070-280-800

## د دولت د رياست مرستيال امين ارسلا، "په افغانستان کي دولت څه ډول فعاليت کوي" لارښود د افغانستان پرمختيا په ټولنه کي افتتاح کړ

**کابل د اپريل ۲۱، ۲۰۰۴** م: په "افغانستان کي دولت څه ډول فعاليت کوي"، لارښود، هغه نوي خپرونه ده چي په دي ورستيو کې د افغانستان در ارزيابي او د څيړني د ډلی (AREU) او نړيوال بانک له خوا چاپ شوي دي. دغه لارښود دري ستر هدفونه لري: **الف**ـ، د هغه چا لپاره چي نوي د افغانستان په سياسي او اداري برخو کي ګام ږدي، د دولتي جوړښت په هکله د لومړنيو لارښونو برابرول. **ب**ـ. د آصلاح کوونکو لپاره د معلوماتو برابرول چي څرنګه د موجوده اداري ترتيب او تنظيم نه په استفادي سره کار وکړي، **ج**ـ. د هغو خلکو قدرداني او درناوي چي دولتي سيستم ئي متحرک ساتلي او اوس هم هغه اصلاح کوي.

نوموړي لارښود ددغو هدفونو د تحقق په پام کي نيولو سره هڅه کوي چي د عامه سکتور اساسي ځانګړنی د افغانستان د دولت د تکامل له تشريح سره يو ځاي اوسني سياسي اوضاع او د دولت بيلابيلي اداري او تشکيلاتي برخي تنظيم کړي. دغه لارښود د مالي پوستونو، کليدي وظايفو او قانوني اساساتو: لکه د ماليي را ټولول، بوديجي اجراء او آماده کول، او حساب ورکول تشکيلوي. همدارنګه د ولايتونو تشکيلاتي جوړښت په هغه طريقه چي په هغی کی د کار کوونکو لپاره د پوستونو ايجاد ، د معاشونو درجه بندي او معيار په پام کي نيول شوي وي، تشريح کوي. دغه لارښود د ښوونې او روزنې او روغتيا په سکتورونو کی د خدمتونو ترتيب، تنظيم او وړاندي کولو ته ځانګړي پاملرنه ور اړه ولي ده.

د دغه لارښود د افتتاح په غونډه کی د دولت د رياست مرستيال ښاغلي امين ارسلا وويل: "*د افغانستان بيارغوني په منظور د دې درک کول چي دولت څه ډول فعاليت کوي، لازمه ده چي دولت او نړيواله ټولنه بايد د اداري سيستمونو له توانائي او کمزورتيا له نقطو څخه خبر وي، تر څو داسي پروګرامونه تر لاس لاندي ونيسي چي د هغو په تطبيق سره د مهمو او اجتماعي خدمتونو وړاندي کولو په ډګر کي قوي او روښانه اورګانونه رامنځ ته شي.*"

د دولت د رياست مرستيال د خپلو خبرو په پاي کي وويل: "*په افغانستان کی دولت څه ډول فعاليت کوي*"، *لارښود له دي نه په ډاډ سره چي د پروګرامونو په برخه کې تصميمونه او طريقي د يوې باخبري مرجعي په واسطه نيول شوي دي، ډيره ښه منبع ده. دغه لارښود د ولايتونو اداري اهميت څرګند کړي او موږ يي دي مهمي ارتيا ته متوجه کړي يو چي يواځي په کابل کي متمرکز ونه اوسو، بلکه د اداري جوړښت په برخه کي، چي د ولايتونو*

*ښارونو، ولسواليو په سطحه وجود لري، هم بايد کار وکړو. ولايتي اداري جوړښت له اندازې زيات له پامه غورځول شوي دي.*

**په افغانستان کي سيمه ايزي اداري**: د دي عمل کرد لپاره وړانديزونه ا و ارزيابي د لاربنود ضميمه ده او د دولت او نړيوالي مرستنه رسوونکی ډولني لپاره ځانکړي وړانديزونه برابروي.

**د ا فغانستان د ارزيابي او څيړني د ډلي او نړيوال بانک د اداري د پروژي په هکله:**

د دغه لاربنود په مطالبو کي د شپږو ولايتونو مطالعات شامل دي، چي د نړيوال بانک د اداري د پروژي او د افغانستان د څيړني او ارزيابي د ډلي لخوا تر سره شوي دي. په دغو مطالعاتوکي شامل ولايتونه عبارت دي له: فارياب او هرات چي د ۲۰۰۲ م کال د نومبر په مياشت کي مطالعه شوي، بدخشان او وردګ چي د ۲۰۰۳ کال په اپريل کي، کندهار د ۲۰۰۳ کال په جون کي او بلاخره باميان د ۲۰۰۳ کال د جولاي په مياشت کي مطالعه شوي دي.

دغه مطالعات د نړيوال بانک او د افغانستان د ارزيابي او څيړني د ډلي له خوا هماهنګ شوي او په ابتدائي ډول د اروپا د کميسيون EC د سويس او سويډن د دولتونو او د يوناما د دفتر په حمايت د نړيوال بانک له خوا تمويل شوي دي.

دغه فعاليت د افغانستان د اسلامي انتقالي دولت د مرستيال ښاغلي امين ارسلا، د مالي‌ي وزير ښاغلي اشرف غني احمدزي او د کورنيو چارو د وزير ښاغلي علي احمد جلالي تر هر اړخيزو لاربنونو لاندي تر سره شوي دي.

د افغانستان د ارزيابي او څيړني د ډلي په هکله د زياتو معلوماتو د تر لاسه کولو لپاره دي لاندي سايټ ته مراجعه وکړي.

http://www.areu.org.af/

په افغانستان کي د نړيوال بانک فعاليتونو په هکله د زياتو معلوماتو د تر لاسه کولو لپاره په دي لاندي سايټ مراجعه وکړي.

http://www.worldbank.org/af/

د انترنت له لاري د خپرونو د ا خيستلو په منظور لاندي سايټ ته رجوع وکړي:

http://publications.worldbank.org/ecommerce/catalog/product?item_id=3833690

http://publications.worldbank.org/ecommerce/catalog/product?item_id=3906389

او يا

په کابل نوي ښار، انصاري څلور لاري کي د افغانستان د ارزيابي او څيړني د ډلي له دفتر سره په تماس کي شي.